Pashto | پښتو



# د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د ارلي سټارټ وړکتون

The Education State

VICTORIA State Government | Department of Education

## وړکتون ولې مهم دی؟

وړکتون ماشومانو سره مرسته کوي چې په ښوونځي او ژوند کې د بریالیتوب لپاره چمتو شي. په وړکتون کې، ماشومان د ژبې، شمېرو او نمونو په اړه د زده کړې لپاره له لوبو څخه کار اخلي. دوی دا هم زده کوي چې څرنګه له نورو سره ملګرتیا وکړي، شیان شریک کړي، غوږ ونیسي او خپل احساسات اداره کړي. ښوونکي له ماشومانو سره مرسته کوي چې د زده کړې په اړه لیواله، نوښتګر (مبتکر) او باوري شي. څېړنې ښیي دوه کلن وړکتون له یوه کال څخه غوره دئ.

## وختي پیل (ارلي سټارټ) وړکتون څه شی دئ؟

د ارلي سټارټ وړکتون د کډوالو یا پناه غوښتونکو د ډلې خلکو ۳ کلنو ماشومانو ته په اونۍ کې ۱۵ ساعته وړیا یا په ټیټ لګښت وړکتون ورکوي.

د وړکتون د وختي پیل لپاره غوښتنلیکونه د وړکتون لخوا ورکول کیږي. د وړکتون د وختي پیل مرستې نیغ په نیغه وړکتون ته ورکول کیږي.

## آیا زما ماشوم دغوره کیدو وړ دی؟

د غوره کیدو دوړتیا لپاره، ستاسو ماشوم باید د اپریل تر ۳۰ پورې د ۳ کلونو وي په هغه کال چې وړکتون پیل کوي، تاسو یا ستاسو ماشوم باید:

- د کډوالۍ یا بشري ویزه ولرئ، یا
- د کډوالۍ یا بشري ویزې لپاره غوښتنلیک ورکوي، یا
- مخکې مو د کډوالۍ یا بشري ویزه درلوده، یا
- یو اوسنۍ یا ختم شوی (دکډوالۍ کارت) ImmiCard ولرئ.

که چیرې له دې څخه یو هم نه وي، مګر تاسو یا ستاسو ماشوم کډوال یا پناه غوښتونکی یاست، یا ورته تجربې ولرئ، کېدای شي ستاسو ماشوم د غوره کېدو وړ وي.

د ښښنې د پوښتنې په اړه د زده کړې د سیمه ییزې څانګې له دفتر سره اړیکه ونیسئ. تاسوکولای شئ له هرمسلکي کس څخه چې ستاسو ملاتړکوي وغواړئ چې ستاسو لپاره له څانګې سره اړیکه ونیسي.

## له چمتووالي څخه مخکې ټولګی (پري پریپ) څه شی دی؟

په ویکتوریا کې څلور کلن ماشوم د پری پریپ په توګه روزل کیږي. دا په دې معنی چې ماشومان به د ښوونځي له پیل څخه مخکې په کال کې د لوبو له لارې د زده کړې او له نورو ماشومانو سره د اړیکو د جوړولو لپاره زیاتو ساعتونو ته لاسرسی ولري. پري پریپ به د انفرادي (نصابي) وړکتونونو او د اوږدمهاله ورځنۍ پاملرنې د مرکزونو له لارې وړاندې شي.

د پری-پریپ د یوې برخې په توګه، د کډوالو یا پناه غوښتونکو د ډلې د ماشومانو لپاره د وړیا ماشومانو ساعتونه زیاتیږي، مهمه نده چې تاسو په ویکټوریا کې چیرته ژوند کوی.  تاسو کولای شئ د خپل وړکتون له خدمت څخه د پری-پریپ په اړه پوښتنه وکړئ، چې دوی ستاسو ماشوم ته څوساعته ورکوي او کومې ورځې ګډون کولای شي.

که ستاسو ماشوم لا دمخه په ارلي سټارټ وړکتون کې شامل شوئ وي، نو هغه د پری پریپ لپاره هم وړدئ.

د سرچینو او ژباړو په ګډون د پری-پریپ په اړه د نورو معلوماتو لپاره له: **vic.gov.au/pre-prep** څخه لیدنه وکړئ

## زه څنګه خپل ماشوم شامل کړم؟

تاسو کولای شئ د خپل ماشوم د شاملولو لپاره د خپل نږدې وړکتون له خدمتونو یا له خپلې سیمه ایزې ښاروالۍ سره اړیکه ونیسئ او د ارلي سټارټ وړکتون پری-پریپ ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ.

که تاسو ترجمان ته اړتیا لرئ، وړکتون ته وواياست، څکه دوی کولای شي چې د وړیا ټلیفوني ژباړې خدمتونوڅخه کار واخلي.

که تاسو د نوم لیکنې لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، د پوهنې له څانګې یا کوم مسلکي کس څخه چې ستاسو ملاتړ کوي، پوښتنه وکړئ، لکه:

- ملاتړ کوونکی
- دوه کلتوري کارکوونکی
- د مور او ماشوم د روغتیا نرسه
- د لوبې ګروپ د اسانتیاوو ملاتړی
- د کلتوري او ژبني بېلابېلو (CALD) عامه پوهاوي کارکوونکی.

## زما ماشوم باید د پری پریپ/څلور کلن وړکتون ته لاړ شي؟

هو د وړکتون له وختي پیل وروسته، ستاسو ماشوم د وړیا یا ټیټ لګښت، پری پریپ لپاره وړ دئ. دا به له دوی سره مرسته وکړي چې خپل قوتونه پیاوړي کړي او ښوونځي ته یې چمتو کړي.  هغو ماشومان چې د ارلي سټارټ وړکتون لپاره وړدي، یا یې لاسرسی موندلی دئ، په اونۍ کې د 15 ساعتونو څخه د ډیرو لپاره د وړیا یا ټیټ لګښت پری پریپ لپاره هم وړ دي.

تاسو کولای شئ له خپل خدمت څخه د پری-پریپ په اړه پوښتنه وکړئ، چې دوی ستاسو ماشوم ته څو ساعته درکوي او ستاسو ماشوم په کومو ورځو کې ګډون کولای شي.

هڅه وکړئ چې خپل ماشوم ژر تر ژره د پری پریپ لپاره شامل کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم ځای ترلاسه کړي، ځکه چې ستاسو د خوښې وړکتون کې ځایونه تضمین شوي ندي.

د پری-پریپ په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ:
**vic.gov.au/pre-prep**

## د ارلی سټارټ وړکتون په اړه نور معلومات چیرته موندلی شم؟

- د vic.gov.au/education ته مراجعه وکړئ او د **ارلي سټارټ وړکتون** لټون وکړئ، یا
- د زده کړې ځانګې خپل سیمه ییز دفتر ته زنګ ووهئ.

## د سیمه ییز دفتر اړیکې

| سیمه | ځای |
|---|---|
| شمال ختیځه ویکټوریا<br>1300 333 231 | بینالا<br>ګلین واورلي<br>رینګ ووډ<br>سیمور<br>شیپرټن<br>ووډونګه |
| شمال لویدیځه ویکټوریا<br>1300 338 691 | بینډیګو<br>کوبرګ<br>ګرینزبارو<br>میلجورا<br>سوان هیل |
| جنوب ختیځه ویکټوریا<br>1300 338 738 | ایسټ بینټلي<br>ډنډینانګ<br>فرنکسټن<br>لیونګاتا<br>مو وي<br>سېل<br>واراګل |
| جنوب لویدیځه ویکټوریا<br>1300 333 232 | بالاراټ<br>فوټسکرې<br>جیلانګ<br>هارشم<br>کیلور<br>وارنامبول |

ستاسو په ژبه کې د مرستې ترلاسه کولو لپاره:

- د ملي ژباړې او ژباړې خدمتونوته په ۱۳۱ ۴۵۰ زنګ ووهئ
- له ژباړونکي څخه وغواړئ چې ستاسو د سیمې شمیرې ته زنګ ووهي (پاسنۍ برخه وګورئ)
- ترجمان به په ټیلیفون کې پاتې شي او ژباړه به وکړي.

د ښوونې او روزنې دځانګې لخوا خپور شوی، میلبورن نومبر ۲۰۲۵ (اصلاح شوئ) © د ویکټوریا ایالت